Retur og tilbakevending til Afghanistan

په اپريل 2007 کښې تجديد شوی

Pashto

پښتو

افغانستان ته بيرته تلل او بېرته لېږدول

د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو د مهاجرينو لپاره عالي کميشنری سره قرار داد

د ناروې حکومت دافغاني مهاجرينو د بيرته لېږدولو او بيرته تللو په هکله د افغانستان حکومت او يو.ان.اچ.سي . آ ر سره يو قرارداد لاسليک کړی ده. د دغه قرار داد په نتيجه کښې مرستي زياتېږي تر سو چه زياتره کسان په خپله خوښه د بيرته تک لاره غوره کړي. او هغه کسان چې بيرته ځي د افغاني په تولنه کښې ژر ځای نيسي. دغه لاندني موضوعات په دغو مرستو کښې شامليږي:

- ځرګندوني او مشوري
- صحي معايني او سفر څخه مخکښي واکسينول
- نقدي مرستي، حتی دهغو کسانو لپاره چې منفي ځواب هم ولري.
- افغانستان ته تر بيرته رسيدلو څخه وروسته مرسته په لمړيو ورځو کښې، دمثال په توګه مؤقتي هستوګنځي.
- د کار د پيدا کولو په هکله مرسته او يا مرسته تر سو چې خپل شخصي تجارت پيل کړي.

دغه قرار داد د اجباري بيرته لېږدو ته هم لاره هواروي. په دی معنی چې هغه افغانان چې وروستني منفي ځواب لري او په خپله خوښه بيرته نه ستانه کيږي، نو يو ليس به هغوی بيرته وطن ته لېږدوي. څوک چې په خپله خوښه نه ځي نو هغوی سره به لږ مالي مرسته کيږي.

د افغانستان دموکراتيک انتخاب شوی دولت ټولو افغانانو ته بلنه ورکړی ده چې خپل هېواد ته بيرته را شي تر سو چې د هېواد د بيا ودانولو په بهير او د شرايطو د نورمالولو په جريان کښې برخه واخلي. په دې ورستنيو کلونو کښې تقريباً ځلور نيم مليونه افغانان د ګاونډيو هېوادونو څخه د افغانستان په امنو ځايونو کښې په خپله خوښه ستانه شوي دي. د يو.ان.اچ.سي. آ ر رول دادی چې د مهاجرينو د بيرته تللو د اسانتيا په خاطر شرايط برابر کړي او وګوري چې دغه پروسه د يو.ان.اچ.سي.ار د صلاحيت او د دري اړخيزه قرار داد سره سم اجرا کيږي. په ناروې کښې د معلومات، مشوري او د نوم د ثبتولو دنده د يو.ان.اچ.سي.ار په غاړه ده چې د فلکتنګ يلين د مرستي سره يوځاي ترسره کيږي.

سفر نه مخکښې پراخي معلومات او مشوری

د مهاجرو لپاره مرسته کونکي مؤسسه د (انکور) د پروژې له لاري ټولو ته په شخصي توګه د حقوقي لاربښوونو په هکله معلومات ورکوي. شخصي مشوری د تلفون له لاري، د شخصي مرکي په توګه او د ليک يا برېښنا ليک له لاري ترسره کيږي.

انکور ټولو دولتي کمپونو او ولاياتو ته سفر کوي او افغانانو سره مرکي کوي. او که چيری يو دليل موجود وي، نو افغانانو سره د فيصلي د بدلولو د غوښتني په هکله هم مرسته کوي.

هرکلئ او د افغانستان په ټولنه کښې بيا شامليدل

(معلومات، بيرته تلل او د افغانانو بيرته شامليد ل د IRRANA

افغانستان په ټولنه کښې) يو داسي پروژه ده چې شرايط د بيرته تللو او بيرته لېږدلو لپاره برابروي او د370 افغانانو لپاره چې له ناروې څخه افغانستان ته راستانيږي يو پايښتاک ژوند تضمينوي.

ددغي پروژې د تطبيقولو مسؤليت د مهاجرت لپاره بين المللي سازمان(آ ي.او.ام) په غاړه ده البته د يو.دي.اي په نږدي همکاري سره. د نوموړی پروژې لګښتونه او ټول جزئيات د ناروې د مقاماتو له خوا ورکول کيږي.

دغه پروژه په پيل کښی د يو کال لپاره مد نظر نيول شوی وو، خو اوس تر 31.12.2007 تر نيټي پوري تمديد کيږي، او يا د نوموړي 370 کسيز ډلې د بيرته تللو د بشپړيدلو پوري.

تر نظر لاندې ډله په عمومي توګه هغه افغانان دي چې د هغوی پناهندګي غوښتنه په ناروې کښې منل شوی نده، مګر هغه افغانان چې د مهاجرحيثيت لري او يا په ناروې کښې اقامت لري، هم کولای شي چې په دغه پروګرام کښې شامل شي.

نوموړي پروژه د آ ي.او.ام موجوده کمپونو او په افغانستان کښې د بيرته راستانيدو دفترونو له لاري ترسره کيږي او دا امکانات هغه افغانانو لپاره چې له ناروې څخه بيرته ځي، ورکول کيږي.

د افغانستان حکومت، په ځانګړي توګه د مهاجرينو او بيرته تک لپاره وزارت ، ملي او نړيوال خيريه مؤسسي په افغانستان کښې، د آ ی.او.ام د همکارانو له جملې څخه دي.

د نوموړي پروژې فعاليت په ناروې کښې د آ ی.او.ام ، د داو طلبانه بيرته تلل د عمومي پروګرام او د انکور د پروژې د مهاجرينو امدادي پروګرام په هماهنګي

UDI Utlendingsdirektoratet

پيليدلو څخه (مى 2006) تر اوسه پورې صرف يو کس بيرته راغلى دى. په همدې دوره کښې 129 کسان د پوليس لخوا شړل شوى دى.

نومړې پروژه د لاندنيو برخو څخه جوړېږي

- معلوماتي فعاليتونه : چې نظرلاندې ډلې، د مهاجرينو لپاره کارکوونکو او د کمپ کارکوونکو ته متوجه ده ، په شمول د ځانګړي معلومات او مشورې.
- د سفر ترتيبول او افغانستان ته د رسيدلو په وخت کښې همکاري. آ ى.او.ام د سفر د امادګي په وخت د عملي چارو په رابطه مرسته کو ي او د سفر ټول لګښتونه هغه وګړو ته چې داوطلبانه ستنېږي، تر آ خره پورې ورکوي.

د رسيدو په وخت کښې مرسته: هغه افغانانوته چې بيرته ستنېږي ،کابل ته د رسيدو سره سم صحي معاينې تر سره کېږي او هغوى ته د امنيتي وضعيت، خيريه مؤسسو او د مينونو په هکله معلومات ورکول کېږي.
که چېرې سمدلاسه کور موجود نوي، نو آ ى.او.ام هغوى ته د دوو هفتو لپاره ځاي ورکوي.

- د بيرته تللو څخه وروسته ځانګړي معلومات او مشورې د بيرته شامليدلو په هکله د څرګنده شوى ضرورت په صورت، د مرستې او د کار د تعقيبولو لپاره سفارشونه، په ټولنه کښې د بيرته شامليدلو د پروګرام طرح کول، په شمول د کار او آ موزشي امکانات.

- ټولنه کښې د بيرته شامليدلو په بهير کښې مرسته: دداوطلبانه تللو او يا د بيرته ليږدلو په صورت کښې، آ ي.او.ام مشوره ورکوي او د هر ټاکلي کس اړتيا او استعداد تشخيصوي.د شامليدو په هکله مرسته په دې معني ده چې دکارد پيداکولو په رابطه سفارشونه، تعليمات او خپل مستقل تجارت پيل کولو په هکله امکانات برابرول.
د (ايرانا) پروژه په افغانستان کښې درې يا شپږ مياشتني کورسونه او ترينګ امکانات برابروي.دغه کورسونه په دفتري کارونه، کمپيوټر او انګليسي او مسلکي ساختماني زده کړو باندې متمرکزه دي. په همدې ټوګه واړه تجارتي فعاليتونو سره په پيل کښې مرسته کېږي. هغه تجارتي فعاليتونو سره چې تر اوسه پورې مرسته شوى، دا دي: د خوراکي موادو دکانونه، د کاليو د خرڅولو دکان، د مختلفو ساختماني موادو دکانونه او د بوکس يو کلب.

نوموړي اقدامات يعني د بيرته تللو څخه وروسته دوامداره معلومات او مشورې او په ټولنه کښې بيرته شامليدو په هکله مرستې، هغه افعانانو ته هم ورکول کېږي چې جبراً د پوليس لخوا شړل کېږي.

صحت

ته راستانېږي ځانګړي صحي معاينات وړاندې کوي. که چېرې تاسو د داوطلبانه د بيرته تللو غوښتنې څخه وروسته داسې معاينات غواړى، نو خپل دايمي ډاکتر يا کوم بل ډاکتر او يا د منطقي صحي مرکز او يا د ساري ناروغيو مخنيونکي ډاکتر سره رابطه ونيسئ.
د ضروري واکسينونو لګښتونه د هغو کسانو لپاره چې بيرته افغانستان ته راستانېږي، د يو.ډي. اي لخوا ورکول کېږي. د ناروې حکومت د ديفتري، ښخې او پوليو ناروغيو په مقابل واکسينونه توصيه کوي. ديورتنيو ناروغيو په مقابل

واکسينونه په خا ص ټوکه د ماشومانو لپاره ده مګر لويان هم کولاي شي چې دډاکتر د تصديق څخه وروسته يې استعماله کړي.څوک چې په کمپ کښې اوسېږي بايد د ډاکتر څخه رسيد واخلي او کمپ کښې مېشته صحي مرکز ته يې وروسپاري او خپلې پيسي بېرته واخلي. څوک چې په کمون کښې اوسېږي خپل رسيد په عين ترتيب باندې ځان سره وساتي او خپلي پيسي د يو.دي.اي د سيمه ايز دفترڅخه چېرته چې اوسېږي، واخلي.

د اضافي مالي بيرته تاديه کول

هغه کسان چې له 183 ورځو څخه لږ په ناروې کښې اوسيدلي دي، کولاى شي چې سفر څخه مخکښې د مالې دفتر (ليګننز کنتور) سره په تماس کښې شي او د خپلې پيشکي مالي د محاسبې غوښتنه وکړي.
څوک چې په يو 12 مياشتني دوره کښې 183 ورځو نه زيات ناروې کښې پاتې شوي وي، او يا په يو 36 مياشتنى دوره کښې 270 ورځ نه زيات اوسيدلي وي، د ماليې د قانون د نګاه نه ناروې د هغوى هستوګنځى بلل کېږي، او بايد خپل صورت حساب پانه(ليګننګ) په ټاکل شوى وقت او سفر څخه مخکښې مربوطه مالي دفتر ته وروليږي. په دې اړوند زموږ مشوره هغه کسانو ته چې بېرته خپل هېواد ته ستانه کېږي، دادى چې د سفر د امادګى د يو جزپه حيث، بايد د سيمه ايزې ماليې دفتر سره تماس ونيسي.

انفرادي مالي مرسته

په دغه قرار داد کښې تر نظر لاندې درې ډلې شامليږي:
هېواد ته بيرته تګ: هغه افغانان چې په ناروې کښې د اقامت اجازت لري او غواړي چې بيرته خپل هېواد ته راستانه شي، هغوي ته په فردي ټوګه 15000 کرون ورکول کېږي.دغه پيسې په ناروې کښې تاديه کېږي.

داو طلبانه تګ: هغه افغانان چې د هغوي پناهندګي درخواست منل شوي نوى او غواړي چې د بېرته تګ د پروګرام له لاري خپل هېواد ته په خپله خوښه ستون شي، هغوى ته 15000 کرونه ورکول کېږي. دغه پيسې په دوو مرحلو کښې ورکول کېږي: 7500 کرون کابل ته د رسيدلو سره سم، او 7500 کرون دوه مياشتو څخه وروسته.

جبري لیږدول: هغو افغانانو ته چي جبراً د پولیس لخوا شړل کیږي 3000 کرونه ورکول کیږي.

IOM - په تلفون 23105320 او یا د انترنت په ادرس
www.iom.no
- په تلفون 80041042 او یا په دغه مفت نمبر کښي:
INCOR
80041855

د خاوري د پرېښودلو د معیاد معنی

هغو کسانوته چي وروستني منفي ځواب لري، یو نیټه ټاکل کیږي تر سو چي دغه هېواد څخه ووزي. که څوک دغه
هېواد نه پرېږدي او یا د خپلي خوښي د تک لاري په پروسه کښي همکاري و نکړي، نو دا په دې معني ده چي د ټاکل
شوی وخت د ختمېدو سره سم پولیس کولای شي چي هر ممکن وخت نوموړی شخص ونیسي او جبراً یي وشړي.
جبري شړل دا خطر لري چي چاته موقع نه ورکول کیږي چي خپل هېواد ته د تک په هکله تیاري ونیسي، او په همدی شکل د سفر د لګښت په تناسب د ناروي حکومت ته
قرضدار پاتي کیږي. او په ضمن کښي د جبري شړلو په ارتباط یو پرېکړه لیک هم صادرېږي.دا په دې معنی دی چي سړی د 2 تر 5 کالو پوري حق نلري چي د شنګن هېوادونو ته داخل شي.

تاسو څنګه غوښتنه کولای شئ؟

دداوطلبانه عودت غوښتن لیک د یو.دي.اي سیمه ایز دفتروته چېرته چي اوسېږئ ،استول کیږي. او د داوطلبانه بېرته تللو غوښتنه په اسلو کښي آ ي.او.ام دفترته لیږدول کیږي.
د داوطلبانه دبېرته تللو د غوښتنو په هکله مفصل معلومات اوپه ټولنه کښي د شاملیدلو په هکله د مرستي تر لاسه کولو د پاره کولای شئ چي له لاندنیو پتو سره رابطه ونیسئ: